Office of the Deputy PM for Economic Affairs
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## خبرپاڼه

درېیم کال - ۹مه ګڼه | پرله‌پسې ۷۱مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۵/۰۳/۱۴



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د کورني درملو صنعت د پیاوړتیا په لور یو مهم ګام

۲- د حیرتان ـ مزارشریف اوسپني پټلۍ د پنځمې برخې بیا فعالېدل او د سوداګرۍ پراختیا

۳- د افغانستان او روسیې ترمنځ د اقتصادي همکاریو د پراختیا نوې زمینه

# د کورني درملو صنعت د پیاوړتیا په لور یو مهم ګام



د افغانستان اسلامي امارت له راتګ وروسته د هېواد د درملو صنعت د پام وړ پرمختګ کړی او د بو علي سینا بلخي دویم تخصصي ملي او نړیوال نندارتون جوړېدل د دغه سکتور د ودې او پیاوړتیا ځرګندونه کوي. دا نندارتون چې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پرانیستل شو، د کورنیو تولیداتو د ملاتړ، د پانګونې د جلب او د روغتیايي سکتور د ظرفیت لوړولو له پاره یو مهم فرصت بلل کېږي. اوس مهال په هېواد کې ۱۳۴ د درملو تولیدي فابریکې فعالیت کوي چې ۱۱۷۰ قلمه درمل تولیدوي. په دغو فابریکو کې شاوخوا ۴۵۰ میلیونه ډالره پانګونه شوې او د هېواد د درملو ۳۸ سلنه اړتیا پوره کوي. دا په داسې حال کې ده چې اته میاشتې وړاندې دغه کچه یوازې ۲۵ سلنه وه. دغه پرمختګ ښیي چې د وارداتي درملو د کمښت او د کورني تولید د هڅونې پالیسۍ د درملو صنعت ته د ودې مناسب فرصت برابر کړی دی.

د درملو د تولید پراختیا یوازې د روغتیايي خدمتونو له پلوه اهمیت نه لري، بلکې اقتصادي اړخ یې هم خورا مهم دی. د کورنیو درملو تولید له هېواده د بهرنیو اسعارو د وتلو مخنیوی کوي، د کارموندنې فرصتونه رامنځته کوي او د صنعتي ودې بهیر چټکوي. سربېره پر دې، د معیاري درملو تولید د صادراتو له پاره هم زمینه برابرولی شي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له لوري د درملو د معیاري کولو، د احتکار د مخنیوي او د بیو د کنټرول په اړه ځرګندونې د دې ښکارندويي کوي چې په هېواد کې د درملو د تولید ترڅنګ د بازار تنظیم ته هم پاملرنه کېږي. د درملو تولیدوونکو ته په کار ده چې باکیفیته درمل تولید کړي او نړیوال معیارونه رعایت کړي، ځکه په دې سره کېدلی شي چې افغانستان د سیمې او نړۍ بازار کې لوړ ځای ومومي. اسلامي امارت د خصوصي سکتور ملاتړ ته دوام ورکوي او وروستي اخیستل شوي ګامونه ثابتوي چې اسلامي امارت په هېواد کې خصوصي پانګونه هڅوي. د کورني درملو د صنعت پیاوړتیا نه یوازې د هېواد د روغتیايي خوندیتوب له پاره ضروري ده، بلکې د هېواد د صنعتي ودې، پانګونې زیاتوالي او اقتصادي ثبات له پاره هم مهم بنسټ جوړوي.

# د حیرتان ـ مزارشریف اوسپنې پټلۍ د پنځمې برخې بیا فعالېدل او د سوداګرۍ پراختیا

ترانسپورتي او لوژستیکي زیربناوې د هېوادونو د اقتصادي ودې له مهمو عواملو شمېرل کېږي. په همدې لړ کې د حیرتان ـ مزارشریف اوسپنې پټلۍ د پنځمې برخې بیا فعالېدل د افغانستان د ترانسپورتي شبکې او سیمه ییزې سوداګرۍ د پراختیا له پاره یو مهم پرمختګ دی. دغه پروژه چې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پرانیستل شوه، ۷۰ کیلومتره اصلي مسیر، ۳۰ کیلومتره فرعي کرښې، پنځه تمځایونه او د ۵۰ واګونونو د تخلیې ظرفیت لري. د دې اوسپنې پټلۍ بیا فعالېدو سره به د سوداګریزو توکو د انتقال بهیر ګړندی، ارزانه او اغېزناک شي.

افغانستان د سیمې په زړه کې موقعیت لري او د مرکزي او جنوبي اسیا ترمنځ د وصل مهم پُل ګڼل کېږي. له همدې امله د اوسپنې پټلۍ پراختیا د هېواد د ترانزیټي ظرفیت د لوړولو او د سیمه ییز اتصال د پیاوړتیا له پاره ځانګړې اهمیت لري. حیرتان بندر د هېواد له مهمو سوداګریزو دروازو څخه دی چې د

ازبیکستان او د مرکزي اسیا د نورو هېوادونو له بازارونو سره د هېواد د نښلولو اساسي بندر ګڼل کېږي. د رېل پټلی له لاري د توکو لېږد د سړکونو په




پرتله ارزانه، خوندي او چټک دی. د دغې شبکې پراختیا سره به د وارداتو او صادراتو لګښتونه تر یوه بریده راکم شي. همدارنګه د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ د اقتصادي همکاریو پیاوړتیا د سیمه ییزو اقتصادي اړیکو د پراختیا له پاره مهم فرصتونه رامنځته کوي. د حیرتان ـ مزارشریف د اوسپنې پټلی د پنځمې برخې بیا فعالېدل د افغانستان د ترانزیټي موقعیت د پیاوړتیا، د سوداګرۍ پراختیا او د اقتصادي ودې لـه پاره مهم ګام ګڼل کېږي.

## د افغانستان او روسیې ترمنځ د اقتصادي همکاریو د پراختیا نوې زمینه

د افغانستان او روسیې ترمنځ د ویزې د احتمالي لغوه کېدو وړاندیز د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو د پراختیا له پاره یو مهم تحول ګڼل کېږي. که څه هم دغه موضوع لا تراوسه د وړاندیز په کچه ده، خو مطرح کېدل یې د دواړو لوړو ترمنځ د اقتصادي تعاملاتو د پراختیا له پاره نوې دروازې پرانیزي. دغه وړاندیز افغانستان کې د روسیې د سوداګرۍ مرکز مشرکړی دی. په وروستیو میاشتو کې د کابل او مسکو ترمنځ اړیکو د پام وړ پرمختګ کړی دی. د سفارتي اړیکو پراختیا او روسیې ته د افغانستان دفاع وزیر مولوي محمد یعقوب مجاهد په وروستي سفرکې له روسیې سره د پوځي او تخنیکي همکارۍ هوکړه لیک لاسلیک د اړیکو د نږدې کېدو څرګندې بېلګې دي. د ویزې د اسانتیا یا لغوه کېدو تر ټولو مهم اقتصادي اغېزبه په سوداګرو او پانګوالو ولیدل شي. نړیوالې تجربې ښیي چې د سوداګریزو سفرونو پر وړاندې د محدودیتونو کمول د سوداګرۍ پر حجم مثبت اغېزکوي او د پانګونې د فرصتونو په پراختیا کې مهم رول لوبوي. روسیه د نړۍ له سترو بازارونو



شمېرل کېږي او افغانستان کولی شي چې خپل کرنیز محصولات، وچې او تازه مېوې، طبي بوټي او یو شمېر معدني مواد د روسیې بازارونو تـه صادر کړي. له بلې خوا روسي شرکتونه کولی شـي په افغانستان د انرژۍ، کانونو، کرنې او صنعت سکتورسربېره نورو سکتورونو کـې پانګونه وکړي او په افغانستان کې د نویو لاسته راغلو فرصتونو څخه استفاده وکړي. سره له دې چې د ویزې لغوه کېدل لا عملي شـوي نه دي او تراوسه دغه موضوع د وړاندیز ترکچې ده، خو د دې موضوع مطـرح کېدل څرګندوي چـې افغانستان او روسیه غواړي خپلې اړیکې له سیاسي ډګر وراخوا اقتصادي، سوداګریزو او تخنیکي همکاریو ته هـم وغځوي. که د افغانستان او روسیې اړیکو کې لا ډېره پراختیا رامنځته شي، نو د دواړو هېوادونو ترمنځ به د سوداګرۍ، پانګونې او سیمه ییز اتصال په لورنوي فرصتونه ایجاد شي. د افغانستان اسلامي امارت د روسیې سربېره د سیمې او نړۍ له ټولو هېوادونو سـره د خپلې اقتصاد محوره پالیسـۍ پر بنسټ تعامـل غواړي. اسلامي امارت له ټولـو هېوادونو سـره د متقابل درناوي په چوکاټ کې د اړیکو پراختیا او پیاوړتیا غواړي او ښه راغلاست ورته وایي.